مَا مِنْ قَوْمٍ يَقُومُونَ مِنْ مَجْلِسٍ لَا يَذْكُرُونَ اللَّهَ فِيهِ إِلَّا قَامُوا عَنْ مِثْلِ جِيفَةِ حِمَارٍ، وَكَانَ لَهُمْ حَسْرَةً». «هېڅ خلک له داسې یو مجلس څخه نه پورته کېږي چې دوی پکې الله یاد نه کړي مګر دا چې دوی داسې پورته کېږي لکه په یو مردار خره چې سره راغونډ شوي وي، او دا به د دوی لپاره پښېمانتیا ولري

له ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دي وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: «مَا مِنْ قَوْمٍ يَقُومُونَ مِنْ مَجْلِسٍ لَا يَذْكُرُونَ اللَّهَ فِيهِ إِلَّا قَامُوا عَنْ مِثْلِ جِيفَةِ حِمَارٍ، وَكَانَ لَهُمْ حَسْرَةً». «هېڅ خلک له داسې یو مجلس څخه نه پورته کېږي چې دوی پکې الله یاد نه کړي مګر دا چې دوی داسې پورته کېږي لکه په یو مردار خره چې سره راغونډ شوي وي، او دا به د دوی لپاره پښېمانتیا ولري».

[صحیح دی] [ابو داود روایت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې هېڅ داسې خلک نشته چې په یوه مجلس کې سره ناست وي او بیا تري په داسې حال کې پاڅېږي چې الله یې نه وي یاد کړی مګر دا چې داسې به تري پاڅېږي لکه د خره په یو جسد چې سره راټول شوي وي؛ په بد بوی او مردار کې ناست وي، ځکه چې دوی په خبرو د الله جل جلاله له یاد څخه غافل شوي وو، او د دوی دا ناسته به دقیامت په ورځ د دوی لپاره آفسوس، پښېمانتیا او نېمګړتیا ولري.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3910